Washington State Health Care Authority

# د Apple Health ډاټا محرمیت
# د مراجعینو په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې

**د Apple Health (Medicaid) مراجعین:** د دې frequently asked questions (په مکرر ډول پوښتل شویو پوښتنو، FAQ) څخه کار واخلئ ترڅو د خپل محرمیت او ستاسو د معلوماتو شریکولو څرنګوالي په اړه نور معلومات زده کړئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، اعلان ولولئ یا د ملکري/شریک او تولنې FAQ وګورئ.

## څه شوي دي؟

د Health Care Authority (روغتیا پاملرنې اداره، HCA) ستاسو شخصي/ذاتي معلومات لکه ستاسو نوم، پته، د تلیفون شمیره، او هغه روغتیایی خدمتونه چې تاسو یې ترلاسه کوئ د Centers for Medicare and Medicaid Services (د Medicare او Medicaid خدمتونو لپاره مرکزونو، CMS) ته لیږي. CMS هغه فدرالي آژانسي ده چې Medicaid چلوي.

HCA باور لري خو دا نشي تاییدولی چې دا معلومات Department of Homeland Security (د کورني امنیت وزارت، DHS) سره شریک شوي دي. HCA د دې په اړه د جون په 13م، 2025 نېټه باندې د خپرې شوی خبر پاڼې څخه معلومات زده کړل.

## ولې دا پېښ شول؟

په خبر کیسه کې ویل شوي چې U.S. Department of Health and Human Services (د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو څانګې، HHS) مشرانو لخوا CMS ته ویل شوي وو چې دا معلومات DHS ته ورکړي. HHS د ټول هیواد په اوږدو کې د روغتیا پاملرنې ډېری پروګرامونه څاري، او CMS د HHS یوه برخه ده.

## د چا شخصي معلومات شریک شوي وو؟

HCA د هغو خلکو لپاره معلومات CMS ته لیږي څوک چې د Apple Health پروګرامونو کې شامل/داخل شوي دي چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي. پدې کې د Apple Health توسیع شامل دی.

همدا اوس، مونږ په سمه توګه نه پوهیږو چې CMS د DHS سره څه شریک کړي دي. مونږ اندیښمن یو چې DHS کیدای شي د ډېری خلکو په اړه شخصي/ذاتي معلومات ولري څوک چې د Apple Health (Medicaid) کاروي.

## ایا زه د Apple Health لغوه کولو سره خپل معلومات خوندي کولی شم؟

نه، ستاسو د Apple Health پوښښ اوس لغوه کول به هغه معلومات بیرته راستانه نکړي چې دمخه د CMS سره شریک شوي دي.

ټول ایالتونه اړ دي چې دا معلومات له ډیرو کلونو راهیسې له فدرالي دولت سره شریک کړي.

## ولې HCA زما معلومات له CMS سره شریکوي؟

فدرالي حکومت ایالت ته پیسې ورکوي ترڅو د Apple Health (Medicaid) لپاره تادیه کولو کې مرسته وکړي. د دې پیسو د ترلاسه کولو لپاره، HCA د قانون له مخې اړ دی چې د CMS سره معلومات شریک کړي.

## زه د Apple Health د توسیع پوښښ لرم. ایا زما معلومات شریک شوي وو؟

هو. که چیرې تاسو د Apple Health توسیع کې نوم لیکنه کړې وي، ستاسو معلومات د CMS سره شریک شوي و. که څه هم د Apple Health توسیع ډېری خدمتونو لپاره د ایالت لخوا تادیه ورکول کیږي، فدرالي ډالرې د بیړني روغتیا پاملرنې لیدنو لپاره کارول کیږي.

### آيا زما د کېډوالی حالت د CMS سره شریک شوی و؟

HCA د CMS لرونکو اشخاصو لپاره د کېډوالی د حالت ځانګړي، تفصیلي معلومات نه راپوروي. د هغو خلکو لپاره چې په Apple Health توسیع کې یې نوم لیکنه کړې وه، تقریباً د هرچا لپاره د کېډوالی حالت په دې توګه راپور شوی:

- 'په شرایطو برابر غیر تابعیت لرونکی'، دا هغه کس ته اشاره کوي چې غیر تبعه وي، چا ته چې د مهاجرت ځانګړی حالت ورکړل شوی وي، یا
- د بیړنیو خدمتونو یو ترلاسه کوونکی، پدې معنی چې تاسو د بهرني بیړني طبي پروګرام لاندې د بیړنیو خدمتونو لپاره ور/په شرایطو برابر یاست، یا
- د 'نور' په توګه لیست شوی، پدې معنی چې بله داسې کټګوري شتون نلري چې ستاسو د کېډوالی حالت بیان کړي.

### دا معلومات به د DHS لخوا څنګه وکارول شي؟

مونږ پدې نه پوهیږو چې د کېډوالی معلومات به څنګه وکارول شي. مونږ اندېښمن یو چې دا کیدای شي د کېډوالی د انفاذ لپاره وکارول شي.

## که چیرې DHS زما معلومات د کېډوالی د انفاذ لپاره وکاروي نو زه باید څه وکړم؟

که چیرې تاسو د کېډوالی د انفاذ په اړه اندېښمن یاست، نو د Washington ایالت د لوی څارنوال دفتر خپل حقونه وپېژنئ څخه لیدنه وکړئ: په Washington ویب پاڼي کې د ملکي کېډوالی انفاذ ته مراجعه وکړئ ترڅو د خپلو حقونو.

دا ویب پاڼه داسې معلومات لري چې تاسو سره د چمتووالي په برخه کې مرسته کولی شي که چیرې تاسو سره د کېډوالی د انفاذ کونکو لخوا اړیکه ونیول شي. تاسو کولی شئ ویب پاڼه د سکرین په ګڅ اړخ کې د وسیلې په کارولو سره په ډېرو ژبو وژباړئ یا په 3 پاڼه باندې ژباړل شوي خپل حقونه وپېژنئ سرچینې وګورئ.

## ایا زه د فدرالي دولت/حکومت سره د خپلو معلوماتو شریکولو څخه برخه نه اخیستل غوره کولی شم؟

نه. که چیرې تاسو د Apple Health پوښښ لرئ، نو HCA اړ دی چې ستاسو معلومات د فدرالي دولت/حکومت سره شریک کړي. دا د قانون له مخې اړین دی. تاسو برخه نه اخیستل غوره کولی شئ.

تاسو په هر وخت کې د خپل Apple Health پوښښ لغوه کول غوره کولی شئ. زده کړئ چې خپل پوښښ څنګه آنلاین لغوه کړئ. ستاسو د Apple Health پوښښ اوس لغوه کول به هغه معلومات بیرته راستانه نشي چې دمخه یې د CMS سره شریک کړي دي.

## څنګه زه معلومولی شم چې زما معلومات شریک شوي وو؟

که چیرې تاسو په Apple Health کې داخل شوي یاست، یا تاسو په تیر وخت کې داخل شوي وئ، ستاسو معلومات د اړتیا سره سم د CMS سره شریک شوي دي.

پدې کې هغه خلک شامل دي چې په Apple Health پراختیا کې داخل شوي یا د انتظار لیست کې دي یا په کې شامل دي چا چې د بل Apple Health پروګرام له لارې پاملرنه ترلاسه کړې.

ستاسو معلومات شریک شوي نه وو که چیرې تاسو د Apple Health لپاره غوښتنه کړې وه، خو رد شوي وو او هیڅکله نوم لیکنه نه وه شوې.

## که چیرې زه د Apple Health لغوه کړم نو د روغتیا پاملرنې پوښښ لپاره زما اختیارونه څه دي؟

که چیرې تاسو یو روغتون ته لاړ شئ، تاسو کیدای شي د Washington د خیریه پاملرنې قانونله لارې د پاملرنې لپاره تادیه کولو کې د مرستې لپاره ور/په شرایطو برابر شئ. تاسو په وړیا کلینیک یا د ټولنې روغتیا مرکز کې وړیا یا کم شوي پاملرنه هم ترلاسه کولی شئ.

## زه خپله پته یا د تلیفون شمیره څنګه بدله کړم؟

د خپلو اړیکو معلوماتو تازه/تر دې نېټې کولو څرنګوالي زده کولو لپاره hca.wa.gov/report-a-change ته لاړ شئ. لارښوونې په ډېرو ژبو کې شتون لري.

HCA په مياشت کې يو ځل د پتې بدلونونه تازه/تر دې نېټې کوي. څکه چې مونږ اړ يو چې هره مياشت CMS ته فايلونه/دوسيې وسپارو، د پتې تازه معلومات به بالاخره CMS ته د دې تازه کيدو وروسته واستول شي. CMS ټول پخواني معلومات ساتي. دا پدې مانا لري چې دوی به ستاسو د زړو او نويو اړيکو توضيحاتو ته دوامدار لاسرسی ولري.

## ايالت زما د معلوماتو ساتنه څنګه کوي؟

د ايالت او فدرالي قوانينو له مخې HCA اړ دی چې ستاسو روغتيايي معلومات يوازې د ځينو وجو/لاملونو لپاره وکاروي يا يې شريک کړي.

HCA د محدودولو لپاره ګامونه پورته کوي چې څومره معلومات شريک کيږي. د مثال په توګه، مونږ نور د هغو خلکو لپاره چې د Apple Health توسيع کې داخل شوي د ډيری طبي خدمتونو (چې ادعاوې هم ويل کيږي) معلومات نه شريکوو. مونږ لاهم اړتيا لرو چې د Apple Health توسيع داخليدو معلومات، همدارنګه د ترلاسه شوي بيړني خدمتونو، کېنسر/سرطان يا ډايالېسس درملنې، يا د ټرانسپلانټ وروسته پاملرنې لپاره د ادعاوو ډاټا شريکه کړو. دا خدمتونه د فدرالي فنډونو لخوا ملاتړ کيږي، نو HCA بايد لاهم د دوی راپور ورکړي.

HCA د لږ معلوماتو شريکولو سره خلکو ته د اړتيا وړ پاملرنه چمتو/وړاندې کولو لپاره غوره لارو په لټه کې دی. مونږ د والي دفتر او نورو شريکانو سره کار کوو ترڅو ژر تر ژره بدلونونه وکړو.

## ايا زه بايد لاهم خپلو طبي ملاقاتونو ته لاړ شم يا خپل نسخې پورته کړم؟

هو. دا مهمه ده چې هغه پاملرنه ترلاسه کولو ته دوام ورکړئ چې تاسو ورته اړتيا لرئ. مونږ غواړو چې تاسو د اړتيا وړ پاملرنې ترلاسه کولو سره خوندي احساس وکړئ. مونږ د وړاندې کوونکو ټولنو سره کار کوو ترڅو دوی سره ستاسو د حقونو په پوهيدو کې مرسته وکړو او په Washington ايالت کې هرچا ته خوندي، د لاسرسي وړ روغتيايي پاملرنې وړاندې کولو ته دوام ورکړو.

## له چا سره اړيکه نيولی شم که چيرې زه د خپل محرميت په اړه پوښتنې او انديښنې ولرم؟

### د عام خلکو ګټې او کډوالی

**که چيرې تاسو د دې په اړه انديښمن ياست چې د عامه ګټو کارول څنګه په تاسو اغيزه کولی شي**، د کډوالی وکيل/څارنوال سره خبرې وکړئ. تاسو په Washington ايالت کې وړيا يا ټيټ لګښت قانوني مرسته په immigrationlawhelp.org کې موندلی شئ. دا سايټ د ټيټ عايد لرونکو مهاجرينو سره د باوري قانوني ملاتړ موندلو کې مرسته کوي.

د دې په اړه د نورو معلوماتو لپاره چې عامه ګټې ستاسو د کډوالی په حالت باندې څنګه اغيزه کولی شي، د USCIS عامه چارج پروسو او کړنلارو څخه ليدنه وکړئ.

### خپل حقوق (حقونه) وپيژنئ

که چيرې تاسو د DHS په اړه انديښمن ياست چې ستاسو معلومات ولري، د Washington ايالت د لوی څارنوال دفتر د خپل حقونه وپيژنئ: په Washington ايالت کې د ملکي مهاجرت پلي کول webpage څخه ليدنه وکړئ. د ژباړل شويو سرچينو لپاره په لاندې ژبو باندې کليک وکړئ.

Amharic | Arabic | Chinese (Simplified) | Chinese (traditional) | German | Hindi | Japanese | Khmer | Korean | Marshallese | Punjabi | Russian | Samoan | Somali | Spanish | Tagalog | Ukrainian | Vietnamese

## زه نور معلومات چيرته ترلاسه کولی شم؟

د دې په اړه د نورو لوستلو لپاره چې HCA څنګه ستاسو معلومات محفوظ يا خوندي ساتي، hca.wa.gov/apple-health-privacy ته مراجعه وکړئ.